بســـمل

۲۰۱۰/۱۲/۰۴

## کرزیه بس ده استعفا وکړه

اوباما ژمنه وکړه چې« **افغانستان به هیڅکله د هغو تروریستانو په ځالې بدل نه شي چې غواړي پر امریکا حمله وکړي .**

ښاغلي اوباما پورتنی مهرباني پرون په بګرام کې کړې ده دا خبره تاند خپره کړې او زه یې په یو څو کرښو کې محکوموم .

ښاغلی اوباما چې د واک ترلاسه کولو په لمړیو ورځو شپو کې دخلګو ډېره هیله وه ورته اوس یې شهرت او محبوبیت له کمو څخه هم کم شوی دی .

دا ځکه چې ده تر اوسه پورې داسې څه خاصې لاس ته را ورنې ونه لرلې چې دچا پام دځان خواته وروارړوي هغه دنوبل جایزه هم هسې هوایي ور په برخه شوه .

**« افغانستان به هیڅکله د هغو تروریستانو په ځالې بدل نه شي چې غواړي پر امریکا حمله وکړي .**

مانا په نورو که حملې کوي نوبیا څه بده خبره نه ده؟؟

اوس به زه له ډېرو خبرو څخه را تېر شم یوازې دا درې پوښتنې به دسپیني مانی واکمنانو ته وړاندې کړم چې :

۱ ـ تروریزم څه ته وایاست ؟

۲ ـ تروړستان د چا زېږنده دي؟

۳ ـ تروړستان د چا لخوا او د څه لپاره تمویلیږي ؟

په اخبر کې دومره زیاتوم چې اوبا ما دپروني سفر په طرځ کې تولې نړی ته دا وښوده چې دکابل لاسپوڅې اداره یې سیاله او شریکه نه ده او نه زموږ بې وزله افغانستان کوم رسمي مشر لري .

له کرزي سره داوباما نه لیدل تولو افغانانو ته سپکاوی دی اوس نو که ښاغلی کرزی یو څه ابرو تر لاسه کول غواړي فوراً دې استعفاء وکړي چې هم یې دین برابر شي هم دنیا زما خو یې هسې هم ونه منله چې په چین کې سیاسي پنا واخلي .

**دتاند مکمله لیکنه په لاندې ډول ده :**

**اوباما : افغانستان به هېڅکله پرې نه ږدو چې د ترهګرو خاله شي**

تاند(کابل) د امریکا ولسمشربارک اوباما په بګرام کي امریکايي پوځیانو ته وویل چي دوی په افغانستنان کي د یاغیانو پرضد په جګړه کي وروسته له دي مهم پرمختګ کړی چي ده افغانستان ته نور سرتېري لیږلي دي.
اوباما له واشنګټن څخه په شپه کي له پټ سفره وروسته نژدي ځلور زره امریکايي پوځیانو ته په وینا کي وویل:«نن موږ په دي وياړلی شو چي اوس ډېري کمي سيمي د طالبانو ترکنترول لاندي دي.»
اوباما ژمنه وکړه چي« افغانستان به هیڅکله د هغو تروریستانو په ځالي بدل نه شي چي غواړي پر امریکا حمله وکړي.
ده امریکاییي پوځیانو ته همداراز وویل:«تاسو به په خپل ماموریت کي بریالي شئ.موږ ویلي وو چي د طالبانو د حملو د شدت مخه به نیسو.دا هغه څه دي چي تاسو يي کوئ.تاسو په تهاجمي حالت کي یاست.»
د امریکا ولسمشربارک اوباما چي د بګرام هوايي اډې ته رسېدلی وو د هوا د خرابوالي له کبله ونه توانېد چي کابل ته لاړ شي او له ولسمشرحامد کرزي سره مخامخ خبرې وکړي .
ویل کېږي چي ولسمشراوباما د خپل افغان ساري لپاره مهم پیغام لري څکه دا خبرې د ولسي جرګي د لانحمنو انتخاباتو او د ویکي لیکس له لوري د امریکا د باندنیو چارو وزارت د پټو اسنادو له افشا کېدو وروسته کېږي.
له بګرام څخه د اسوشیتیدپریس خبری اژانس د راپور له مخي د افغانستان له ولسمشرحامد کرزي سره د متحدو ایالتونو د ولسمشرد مخامخ خبرو پلان په وروستی دقیقه کي جوړ شو.
اوباما د سختو امنیتي تدابیرو په منځ او په تکه تیاره کي د پنجشنبي په ورځ له سپیني مانۍ ووت چي د افغانستان له ولسمشرسره مخامخ خبرې وکړي.
خو سپینه مانۍ وايي چي بده هوا سبب شوه چي اوباما کابل ته سفر لغوه کړي.سپینه مانۍ وايي چي د باد،دوړو او وریځو له کبله له بګرامه په کابل کي د ولسمشری تر مانۍ پوري په هیلي کوپتر کي د ولسمشراوباما سفر نامصونه شو.